An Roinn Leanaí, Comhionannais,
Míchumais, Lánpháirtíochta agus Óige
Department of Children, Equality,
Disability, Integration and Youth

# د نړيوال محافظت استوګنې خدمتونه (IPAS)

# د استقباليې او استوګنې مرکزونو لپاره د کور قواعد او طرزالعملونه

# د نړیوال محافظت استوګنې خدمتونه

## د IPAS د استوګنې مرکزونو
## د کور قواعد او طرزالعملونه

## په دسمبر 2022 کې اصلاح شوی

# محتویات


| | | صفحه |
|---|---|---|
| مقدمه | | 4 |
| عمومي پېژندنه | | 7 |
| دکور قواعداوطرزالعملونه لکه: | | |
| لومړۍ برخه: | خدمتونه | 13 |
| دوهمه برخه: | د کور قواعد | 17 |
| دریمه برخه: | د اور وژني خوندیتوب | 30 |
| څلورمه برخه: | د شکایتونو طرزالعمل او بیاکتنې/اپیل | 33 |
| 1 ضمیمه: | د شکایت رسمي فورمه<br>(له اوسیدونکي څخه د مرکز مدیر ته) | 44 |
| 2 ضمیمه: | د شکایت رسمي فورمه<br>(له اوسیدونکي څخه IPAS ته) | 46 |
| 3 ضمیمه: | د اړپايي تولنو د ( استقبال شرايطو)<br>د 2018 مقراتو لاندې د اپيل( د استيناف<br>غوښتني ) 7 خبرتیاو مهال ویش | 48 |

## پیژندنه

**په دې کوچني کتاب کې ټاکل شوي د کور قواعد د اروپايي ټولنو (استقبال شرايطو) د 2018 مقرراتو د 25 قانون سره سم جوړ شوي. دا مقررات د 2018 کال د جون په 30 پلي شول او د محافظت غوښتونکو د غوښتنې پرمهال د دوی د استقبالیې لپاره يې معيارونه واضح کړل.**

**دا کتابچه د چا لپاره ده؟**

دا کتابچه د هغو نړيوال محافظت غوښتونکو[1] لپاره ده کوم چې د IPAS لخوا چمتو شوو استقباليې يا استوګنې په مرکزونو کې پاتې کيږي اودهغو کارکونکو د معلوماتو لپاره دی چې دا مرکزونه پرمخ وړي.

دا تشريح کوي چې تاسو د يو غوښتونکي په توګه په دې مرکز د پاتې کيدو په اړه بايد په څه باندې پوه شئ. دا لاندې موضعات تر پوښښ لاندې نيسي:

- هغه خدمتونه چې ستاسو مرکز يې وړاندې کوي:
- هغه قواعد چې تاسو يې بايد تعقيب کړئ:
- د اورپروړاندې خونديتوب؛ او
- څه ډول شکايت وشي ترڅو مسلې په عادلانه او چټکې سره حل شي.

---

[1] د "نړيوال محافظت غوښتونکی" اصطلاح په دې کوچني کتاب او د کور قواعدو کې د اروپايي ټولنو (استقبال شرايطو) د 2018 مقرراتو په چوکاټ کې د ترلاسه کونکي په معنی کارول کيږي.

**د نړيوال خونديتوب د استوګنې خدمتونه (IPAS) څه شی دی؟**

د اروپايي ټولنو (استقبالي شرايطو) د 2018 قوانينو (له دې وروسته "مقررات") کې د نړيوال محافظت غوښتونکو لپاره د مادي استقبالي شرايطو (کور، خواړه، جامې او د ورځني لګښت تخصيص) ټاکلئ.

د مقرراتو سره سم، د استوګنې ځای یوازې هغو کسانو ته ورکول کیږي چې په کافي اندازه پیسې نه لري اونشي کولی چې په خپلواکه توګه د مناسب معیار ژوند مصارف پوره کړي IPAS .د نړیوال محافظت غوښتونکو لپاره د هستوګنې او اړوندو خدماتو چمتو کولو مسولیت لري لکه په هغه مرکزونو کې چې تاسو پکې اوسئ.

**د IPAS او د مرکز د اداري ترمنځ توپیر څه دی؟**

- IPAS د ماشومانو، مساوات، معلولیت، ادغام، او ځوانانو د څانګې برخه ده.
- مرکزونه د IPAS سره د قرارداد لاندې د خصوصي شرکتونو لخوا اداره کیږي.

**ایا دا د کور قواعد ستاسو د حقونو خوندي کولو یوازینی وسیله ده؟**

نه. مقررات د استوګنې او اړوندو خدماتو چمتو کولو پورې اړوند پراخې مسلې اداره کوي. مقررات د کور قواعدو ته اشاره کوي، کوم چې تاسو یې باید په پام کې ونیسئ کله چې تاسو د IPAS استوګنځي کې اوسیږئ. دا مقررات د لاندې لینک په کلیک کولو سره پیداکوی شئ: https://www.irishstatutebook.ie/ یا

http://www.irishstatutebook.ie/eli/2018/si/230/made/en/pdf

دا د کور قواعد د IPAS نورې پالیسی او طرزالعملونه هم بشپړوي ترڅو د اوسیدونکو ساتنه وکړي او د قراردادیانو څارنه وکړي، لکه؛

- د جنسي ځورونې او کورني تاوتریخوالي پالیسي

- د ماشومانو د ساتنې او هوساينې پاليسي
- د ګردا(پوليسو ) د تفتيش پاليسي؛
- د IPAS 'يو په يو' ناستې چيرې چې اوسيدونکي کولی شي د مديريت له شتون پرته د IPAS له کارمندانو سره مستقيم ډول اړيکه ونيسي؛ او
- د هغو کسانو لپاره چې په مرکزونو کې کار کوي د IPAS کړنالرې
- IPAS د تفتيش پروسه هم لري ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې قرارداد شوي مکلفيتونه پوره کيږي

د دې پاليسيو او طرزالعملونو جزيات د IPAS په ويب پاڼه کې موجود دي. http://www.gov.ie/ipas

**څنګه کولی شم چې له IPAS سره اړيکه ونيسم؟**

**تاسو کولی شئ IPAS ته په دې پته بريښناليک واستوئ:** ipasinbox@equality.gov.ie

**تاسو کولی شئ IPAS ته په دې پته وليکئ:**

International Protection Accommodation Services,
Department of Children, Equality, Disability, Integration and Youth,
Miesian Plaza,
Lower Baggot Street,
Dublin 2.

## د استقبالیې له سیستم سره عمومي پیژندګلوي

IPASتاسو ته د استقبالیې یا استوګنې مرکز ته ښه راغلاست ووایي. دا مرکز د ماشومانو، مساوات، معلولیت، انسجام او ځوانانو د وزیر په استازیتوب تاسو ته د اوسیدو ځای برابروي. دا ترهغه وخته ستاسو کور دی چې ترڅود نړیوال خوندیتوب لپاره ستاسو غوښتنلیک پروسس کیږي.

موږ ستاسو ستاینه کوو چې دا دوره ستونزمن او له فشاره ډکه کیدی شي. موږ اود استقبالي یا د استوګنې مرکز کارمندان به ستاسو د استوګنې په جریان کې د امکان تر حده مرسته وکړي.

**ستاسو د مرکز جزئیات په لاندې ډول دی:-**

د مرکز نوم: ______________________________

د مرکز پته: ______________________________

د تلیفون شمیره: ______________________________

د مرکز مدیر دی: ______________________________

**ایا دا کتاب د نورو دولتي خدماتو په اړه هم دی؟**

نه. دا سند د ورځنې لګښتونو تخصیص یا استثنایی اړتیاو تادیاتو یا روغتیا او تعلیمي خدماتو ته د لاسرسي څرنګوالي په اړه معلومات نه ورکوي. دا خدمتونه د نورو دولتي ادارو او خدماتو لخوا وړاندې کیږي. ستاسو د مرکز مدیر کولی شي تاسو ته د دې خدماتو د لاسرسي څرنګوالي په اړه معلومات درکړي.

**IPAS کوم ډول هستوګنه چمتو کوي؟**

د مقرراتو سره سم، موږ د نړیوال محافظت غوښتونکو ته په ټاکل شوي مرکز کې د استوګنې ځای چمتو کوو پداسې حال کې چې دوی د خپل محافظت غوښتنلیک پایلې ته په تمه دي. موږ ستاسو د هستوګنې ټولې اړتیاوې چمتو کوو په شمول د بشپړ بورډ (ټول خواړه)، په ځینو مرکزونو کې، د استوګنې خپلواک ترتیبات شتون لري.

موږ د خوندي، کیفیت لرونکي استوګنې چمتو کولو ته ژمن یو، کوم چې ستاسو هوساینې ته وده ورکوي. موږ د اوسیدونکو، کارمندانو او مدیریت څخه هیله کوو چې یو بل ته درناوی وکړي.

پداسې حال کې چې تاسو دلته اوسیدونکي یاست، تاسو باید مقررات او طرزالعملونه رعایت کړئ لکه څنګه چې په دې سند کې او د مقرراتو لاندې ترتیب شوي.

**ایا د IPAS یا د مرکز مدیریت زما سره زما د محافظت په غوښتنلیک کې مرسته کولی شي؟**

نه. نه IPAS او نه هم د مرکز مدیریت د نړیوال محافظت په پروسه کې کوم څه اضافه او یه کموی شي. دا د نړیوال محافظت دفتر (IPO) مسؤلیت دی. نه هم موږ په دې اړه څه معلومات لرو چې تاسو به زموږ په استوګنځي کې ترڅومره وخت پاتې شئ، پداسې حال کې چې ستاسو د غوښتنلیک په اړه وروستی پریکړې ته انتظار باسئ.

**ایا داسې قواعد شتون لري چې زه باید هغه په ځانګړې توګه نوټ کړم؟**

هو. تاسو باید د 'راپور او استوګنې' اړتیاو ته ځانګړې پاملرنه وکړئ چې سمدلاسه لاندې تشریح شوي.



**د 'راپور او استوګنې' شرطونه ( requirements )**

که تاسو د محافظت غوښتونکي یاست کوم چې د 2015 کال د نړیوال خوندیتوب قانون د 16(3) (i) (d) برخې د 'رپورټ او استوګنې' شرطونو تابع ګرځول شوي یاست، تاسو باید په هغه ځای کې ژوند وکړئ چې د وزیر لخوا په دیوې خبرتیا په ترڅ تاسوته دیپورتني قانو له مخې ټاکل شوی،که مشخص شوی ځای یواستوګنځی وي پداسې حال کې چې دولت ستاسو د محافظت لپاره د غوښتنلیک په اړه پریکړه کوي، نو تاسو باید همدلته پاتې شئ ترهغې چې شرطونه تعیروکړي او یا د مهاجرت دیوافسر لخوا لرې کړل شي. تاسو باید IPAS ته خبر ورکړئ که تاسو د نړیوال محافظت قانون 16(3) (d) برخې له مخې د شرطونو تابع ګرځول شوي یاست.

د راپور ورکولو هر ډول ځانګړي اړتیاوې او د دوی په اطاعت کولو کې د پاتې راتلو لپاره جزاګانې په هغه لیک کې تشریح شوي دي کله چې تاسو ته استوګنځی درکول کیده.

که د دې شرطونو په پام کې نیولو کې پاتې راغلئ، نوتاسو به یوه سرغړونه ترسره کړئ او ممکن جزا درکړل شي لکه څرنګه چې د 2015 کال نړیوال خوندیتوب قانون د 16(5) برخه کې مشخص شوي. دا کیدای شي ستاسو د خوندیتوب غوښتنلیک د منسوخ کیدو اویا د رد کیدو سبب شي.

**آیه دا تمه کولی شم چې له ماسره به د درناوي له مخې چلند وشي؟**

هو. موږ باید تل د یو بل سره په درناوي چلند وکړو. پدې کې تاسو، نور اوسیدونکي، او د مرکز مدیریت، کارمندان او ملاقات کونکي شامل دي.

**د آیرلینډ قانون په قواعدو باندې څه ډول اغیزه کوي؟**

دا د کور قواعدو د دې کتاب په پیل کې د بیان شویو مقرراتو سره سم جوړ شوي. قواعد او طرزالعملونه د دې لپاره ډیزاین شوي چې د استقبالیي او استوګنې مرکزونه خوندي او اغیزمن کړي. دوی په هیڅ ډول د آیرلنډ قانون لاندې ستاسو په قانوني حقونو کې مداخله نه کوي.

لکه په آیرلنډ کې دنور خلکو په څېر، تاسو هم باید د قانون اطاعت وکړئ. د قواعدو څخه ځیني سرغړونې (د بیلګې په توګه، توهین یا د تاوتریخوالی ډک چلند) د قانون څخه هم سرغړونه ده. دا

کیدای شي چې د هغه چا د محاکمه کیدو او/یا له مرکزه د ویستل کیدو سبب، چې د تاوتریخوالي ډک چلند کوي.

د دې لپاره چې ډاډ ترلاسه شي چې د ااستقبالیي او استوګنې په مرکزونو کې ښه نظم شتون لري او هغه خوندي او موثر دي، د مقرراتو د 7 مادې سره سم، د ماشومانو، مساوات، معلولیت، انسجام او ځوانانو وزیر کولی شي تاسوته یوبل د استقبالیي یا استوګنې مرکز وټاکي، یا په استثنایي حالتونو کې، خدماتو بیرته واخلي اویا کم کړي.

**ايا زه کولی شم مديريت او کارمندانو ته مراجعه وکړم؟**

هو. هر اوسيدونکی کولی شي د هرې مسلې په اړه چې د استقبالیې یا استوګنې په مرکز کې د دوی د پاتې کيدو په اړه رامينځته کيږي د مديريت يا کارمندانو کوم غړي سره اړيکه ونيسي.

مرکز به په منظم ډول يا د اړتيا په صورت کې د مسلو د حل لپاره د 'مديريت او اوسيدونکو' ګډې غونډې جوړوي. مرکز به د داسې غونډو په اړه خبرتیاوې په استقباليه کې ځوړند کړي. د مرکز مديريت به تاسو ته بلنه ورکړي چې د دې غونډو ته لاړ شئ او خپل نظر وړاندې کړئ.

**زه څنګه شکايت وکړم؟**

د شکايتونو رسمي کړنلاره شتون لري (**دکتاب:4 برخه وګورئ: د شکايتونو طرزالعمل**). اوسيدونکي او مديريت کولی شي دا کړنلاره تعقيب کړي که چيرې دوی نشي کولی په غير رسمي ډول د مقرراتو او طرزالعملونو پوښښ لاندې مسلې حل کړي، يا که جدي مسلې رامينځته شي. په هر مرکز کې د شکايت فورمې شتون لري.

**ايا زه کولی شم چې ځان ته د اوسيدو مرکز وټاکم ؟**

نه. د مقرراتو د 7 مادې له مخې به د ماشومانو، مساوات، معلوليت، ادغام او مساواتو وزير به تاسو ته هغه مرکز وټاکي چيرې چيرې چې به IPAS تاسو ته استوګنځي درکړي.هيڅوک حق نلري چې په يو ځانګړي مرکز کې ژوند وکړي.

**ايا زه بل مرکز ته د ليږد غوښتنه کولی شم؟**

که تاسو هستوګنې ته اړتيا لرئ، تاسو د خپلې خوښې بل مرکز ته د ليږدولو حق نلرئ. ليږد ممکن دی، مګر يوازې هغه وخت چې وزير پريکړه وکړي چې دليل مو لومړيتوب لري. دا يوازې په نادر او استثنايي شرايطو کې پيښيږي.

که تاسو د طبي دلايلو له امله د ليږد غوښتنه وکړئ، ممکن له يو خپلواک طبي ريفري وغوښتل شي چې ستاسو غوښتنه و ارزوي. که تاسو پريکړه وکړئ چې بل مرکز ته د ليږد غوښتنه وکړئ تاسو کولی شئ چې ددې بريښناليک له لارې ترسره کړئ.

**بريښناليک:** ipasinbox@equality.gov.ie

مونږ ته ستاسو د بريښناليک د ترلاسه کيدو وروسته به تاسو په 14 ورځو کې دننه د IPAS څخه ځواب ترلاسه کړئ. زموږ پريکړه نهايي ده.

که موږ ستاسو غوښتنليک رد کړو، تاسو نشئ کولی د شکايتونو د کړنلارې لاندې شکايت وکړئ، لکه څنګه چې د دې سند په 4 برخه: د شکايتونو طرزالعملونو کې تشريح شوي.

که مونږ باوردرلود چې تاسو د تبدیلی غوښتنه ددې لپاره کړي چې ستاسو مرکز د هغو خدماتو په برابرولو پاتې راغلی کوم چې ددې سند په 1 برخه: دخدماتو کې راغلي دي، مونږ به ستاسو غوښتنه د مرکز مدیرته راجع کړو او مخکې لدې چې موږ تاسو ته ځواب درکړو مونږ به د دوي نظر په پام کې ونیسو. چیرې چې مناسب وي ستاسو په اړه معلومات به پټ وساتل کیږي.

پوښتنه: ایا زه باید د استوګنې د لګښت لپاره پیسي ورکړم؟

الف. لکه څنګه چې د اروپایی ټولنو (د استقبالیي شرایطو) مقرراتو 2018 په 5 پراګراف کې ویل شوي، که تاسوته د کار بازار ته لاسرسی درکړل شوی وي او د 12 اونیو راهیسي کار کوئ، نو تاسو به اړ یاست چې ستاسو د مادي شرایطو د لګښت یوه اندازه لګښت ورکړئ. که ستاسو ورځنی تخصیص بند شوی وي، هغه مقدارپیسي چې تاسو یې باید تادیه کړئ ستاسو د عاید کچې پورې اړه لري. بشپړ توضیحاتو اود **آیرلند د قانون کتاب** ته د لاسرسي لپاره په لاندې لینک باندې په کلیک کولو سره موندلی شئ.

https://www.irishstatutebook.ie/eli/2018/si/230/made/en/print

د کار بازار ته د لاسرسي په اړه نور معلومات د لاندې لینک په کلیک کولو سره موندلی شئ

**د کار بازار ته لاسرسی**

موږ په دې استوګنځي یا د استقبالیي په مرکز کې ستاسو د پاتې کیدو پرمهال تاسو د ښه روغتیا هیله کوو

**د IPAS ټیم**

# برخه 1

## هغه خدمتونه چې ستاسو مرکز يې بايد چمتو کړي

**د IPAS لخوا تاکل شوي د استوګنې يا استقباليي مرکزونه کوم خدمتونه وړاندې کوي؟**

موږ د استوګنې يا استقباليي مرکزونو سره تړون کړی چې زموږ د عمومي پاليسۍ سره سم خدمتونه وړاندې کړئ. موږ د هر مرکز منظم تفتيش کوو ترڅو ډاډ ترلاسه کړو چې خدمات د قناعت وړ دي. دا غير اعلان شوي تفتيشونه د IPAS کارمندانو لخوا او د يو خپلواک قرارداد شوي خصوصي شرکت لخوا ترسره کيږي. لاندې د هغوخدماتو توضيحات دي چې مرکز يې بايد تاسو ته وړاندې کړي.

**درناوی**

1.1 مرکز بايد تاسو سره په درناوي چلند وکړي. موږ به ناسم چلند ونه منو لکه جنسي ځورونه، توکمپالنه يا د هر ډول ګواښ.

**د استوګنې معيار**

1.2 ستاسو استوګنځی بايد خوندي، ميلمه پالنه او پاک وي. د دې لپاره چې ډاډ ترلاسه کړو چې تاسو خوندي ياست، زموږ مرکزونه ممکن د امنيتي کمرو له لارې وڅارل شي.



**د تی رودونکی ماشوم او د کوچنیانو تغذیه**

1.3 مرکز به د ماشومانو د تغذيي لاربنودونو سره سم د ماشوم فارمول (شيدې ) او د ماشوم خواړه چمتو کړي. دا لاربښوني د ايرلند روغتيايي خدماتو (HSE) چمتو کړي او مرکز هغولاربښونو يوه کاپي لري،کوم چې دوی کولی شي چې تاسو ته يې وښايي. كه تاسو دژوندكولو په يو خپلواک مرکز کې اوسيږئ نو تاسو ته به پاينټونه ( نمرې) درکړل شي کوم چې تاسو کولی شئ د ماشوم فارمول او د ماشوم خواړه پيرودلو لپاره وکاروئ.


**د ماشومانو تختونه او بسترونه**



1.4 مرکز به د ماشومانو اړتياوې پوره کړي او بسترونه به ورته چمتو کړي.

**ښوونځي**

1.5 مرکز به تاسو ته د محلي ښوونځيو په اړه معلومات درکړي او تاسو سره به ستاسو د ماشومانو لپاره د ځای په موندلو کې مرسته وکړي.




**د ښوونځي د غرمي خواړه**

1.6 مرکز بايد د اړتيا په صورت کې ښوونځي تلونکو ماشومانو لپاره صحي، متنوع او تغذيه شوي خواړه چمتو کړي.

**خواړه**

1.7 مرکز به تاسو ته متنوع او مغذي سهارنی، د غرمي ډوډۍ او د شپې ډوډۍ چمتو کړي. په خپلواکه استوګنځی کې،به تاسو په خلپه د پخلي کولو اسانتياوو ته لاسرسی ولرئ ترڅو خپل خواړه په خپله چمتو کړئ.




**طبي غذايي اړتیاوې ( پرهيزانه خواړه)**

1.8 دا مرکز به ستاسو یا ستاسو ماشوم طبي غذايي توکو اړتیاوې پوره کړي. دوی به د اړتیا په صورت کې له طبي مسلکي کس څخه مرسته وغواړي.

**د توکميز رژيم غوره توبونه، او 24 ساعته څښاک.**

1.9 چیرې چې ممکنه او عملي وي، مرکز به د توکمیزو خواړو غوره توبونه پوره کړي. مرکز به تاسو ته د چای او قهوه جوړولو اسانتیاوې، او د څښاک اوبه، د خوراک د عادي وختونو څخه بهر چمتو کړي.

**صابون، شامپو، د غاښونوکريم**




1.10 کله چې تاسو مرکز ته ورسیږئ مرکز به تاسو ته صابون، شامپو او د غاښونو کریم در کړي. کله چې تاسو ورته اړتیا ولرئ دوی به تاسو ته نوي توکي درکوي، که تاسو د ژوندکولو په یوخپلواک مرکز کې ژوند کوئ نو تاسو کولی شئ د خپلو پاینتونو له تخصیص څخه په استفادې خپل د اړتیا وړ توکي وپیرئ.

**مينځل او شاور کول**

1.11 مرکز به تاسو ته د مینځلو او شاور کولو اسانتیاوې چمتو کړي.

**کاليو مينځل او اوتوکول**

1.12 مرکز به د کالو مینځلو او اوتوکولو اسانتیاوې چمتو کړي.



**پاکول**

1.13 د اړتیا په صورت کې به د مرکز د پاکارۍ کارمندان ستاسو د خونې پاکوي. البته، له ټولو اوسیدونکو څخه هیله کیږي چې خپله پاکاري په خپله وکړي او خپله کوټه په مناسب ډول پاکه او صافه وساتي.

**ګرمول**


1.14 د مرکز مدیریت به ډاډ ترلاسه کړي چې ستاسو کوټه او هر ډول عام تفریحي خونې د آرمۍ تر حده تودې شوي.

**بسترونه او جان پاکونه**

1.15 مرکز به تاسو ته په کافي اندازه بسترې او چپرکټ مربوط شیان درکړي. دوی به ستاسو د بسترې او جان پاکونه د اړتیا په وخت کې بدل کړي، مګر لړترلږه په اونۍ کې یو ځل.

**د تفریح اسانتیاوې**

1.16 د تفریحي اسانتیاوو په اړه معلومات به ستاسو په مرکز کې په استقبالیه کې وي که چیرې چې دا د مرکز لخوا چمتو کیږي نوتاسو کولی شئ چې له هغې وړیا ګټه پورته کړئ. مرکز ممکن نور فعالیتونه هم تنظیم کړي چې ممکن وړیا اویا لږ فیس ولري.



# 2 برخه

## د کور قواعد

لاندې د کور ابتدايي اصول دي چې د اروپايي ټولنو (استقبالي شرايطو) د 2018 مقرراتو سره په مطابقت کې جوړ شوي دي. د IPAS استوګنځي کې اوسيدونکي بايد د مرکز مقررات رعايت کړي لکه څنګه چې پدې سند او مقرراتو کې ټاکل شوي.

**درناوی**

2.1 تاسو بايد د هر هغه چا سره له درناوي ډک چلند وکړئ چې تاسو ورسره مخامخ کيږئ. همدارنګه تاسو بايد د مرکز ملکيت او همدارنګه د نورو اوسيدونکو ملکيتو ته درناوی وکړئ. تاسو بايد داسې څه ونه کړئ چې ستاسو د مرکز خونديتوب يا ښه نظم خراب کړي.

**قانون**

2.2 تاسو بايد د آيرلينډ قانون اطاعت وکړئ. تاسو بايد په هيڅ جرمي فعاليت کې ښکيل نه وسئ يا داسې څه ترسره نه کړئ چې نورو اوسيدونکو يا د مرکز مديريت يا کارمندانو ته زيان ورسوي.

2.3 د مقرراتو د 6 مادې سره سم، د عدليې او مساواتو وزير کولی شي د استوګنې او اړوندو خدماتو د درولو پريکړه وکړي که چيرې يو اوسيدونکي د کور له قواعدو څخه جدي سرغړونه کړې وي يا يې کوي. د کور له قواعدو جدي سرغړونې په لاندې ډول دي:

**تاوتريخوالی**

- د غيرقانوني مخدره توکو مصرف
- د غيرقانوني مخدره توکو ساتل
- چې نشه او بی نظمه وي
- جنسي ځورونه
- نژاد پرستي، يا
- هر ډول ګواښ



- په قصدي توګه ناسم، ناوړه او بدنامونکي بیانونه کول، یا
- د نورو اوسیدونکو یا د مرکز کارمندانو روغتیا او خوندیتوب ته خطر یا زیان رسول

دا ډول چلندونه د آیرلینډ د قانون له مخي هم جرمونه ګڼل کیږي.

که څوک جنایی قانون مات کړي، دوی په اړه به ګارډا سیوچانا (آیرلینډ پولیس) ته راپور ورکړل شي.

**ستاسو کوټه**

2.4

**الف) د مرکز مدیر لاربښووني**

تاسو باید د خپلې کوټې د اشغال او خالي کولو په اړه د مرکز د مدیر لاربښووني سره سم عمل وکړئ.

**ب) تاسو باید بل اوطاق ته بدل شئ**

د مقرراتو د 7 مادې له مخې، وزیر باید د استوګني یو مرکز وټاکي. IPAS له هر مرکز څخه غواړي چې د خپلوبسترونو څخه د محافظت غوښتونکود ځای په ځای کولو لپاره اعظمي استفاده و کړي. دا ممکن په دې معنی وي چې مرکز له تاسو وغواړي چې له یوې خونې بلې ته لاړشئ.

ځیني وختونه، ممکن IPAS له یو اوسیدونکي وغواړي چې بل مرکز ته لاړ شئ.

که چیرې دمرکز مدیریت یا IPAS له تاسو وغواړي چې تاسو بلې خونې ته لاړ شئ، او یا بل مرکز ته لاړ شئ، تاسو ته به یې دلیل وویل شي چې ولې.

**ت) پاکوالی**



تاسو باید خپله د خوب کوټه پاکه، صفا او هوا داره وساتئ.

**ث) د کوټې معاینه**

دا ډیره مهمه ده چې د هستوګني معیار د ټولو هغو لپاره چې په مرکز کې اوسیږي د امکان ترحده ښه وي. دمرکز مدیر مؤلیت لری چې ډاډ ترلاسه کړي چې معیارونه ساتل شوي، ټولې اسانتیاوې په سمه توګه کار کوي، هغه څه چې ترمیم ته اړتیا ولري هغه ترمیم کړي، دا په دې معنی چې د مرکز مدیر به ځیني وختونه دې اړتیا ولري چې ستاسو خونه وګوري.

**د مرکز مدیر لخوا معاینه:**

مدیر، یا د مدیر لخوا ټاکل شوي کارمندان به تاسو ته خبر درکړي کله چې دوی غواړي ستاسو کوټه معاینه کړي. موږ له تاسوغوښتنه کووچې له مدیر سره همکاري وکړئ. ستاسو د کوټې دلیدو لپاره د دریو نابریالیو غوښتنو ورسته، مدیر ممکن تاسو ته خبرتیا درکړي چې دی/دي به ستاسو کوټه په ټاکل شوي تاریخ او وخت معاینه کړي. مدیر ممکن له مخکنی خبرتیا پرته ستاسو کوټې ته ننوځي که چیرې دی/دي په دې باور ولري چې سمدستي روغتیایي اویا د خوندیتوب خطر موجود دی.

ستاسوکوټه ممکن ددوي لخوا هم معاینه شي:

- د IPAS کارمندان لخوا، یا
- دنورو پلټونکو لخوا چې د IPAS لخوا ټاکل شوي وي

دا ټول خلک هرڅومره چې کولی شي ستاسو خصوصی حریم ته درناوی وکړی.

**د IPAS یا د IPAS په استازیتوب تفتیشونه**

د دې تفتیشونو هدف دا دی چې ډاډ ترلاسه شي چې ټولې روغتیایي او د خوندیتوب اړتیاوې په نظر کې نیول شوي؛ دا چې هغه شرکت چې ستاسو استوګنځي چمتو کوي خپل هغه مکلفیتونه پوره کوي کوم چې د IPAS سره په تړون کې ټاکل شوي؛ او دا چې تاسو د قوانیو سره سم هغه ټول خدمات ترلاسه کوئ کوم چې تاسو ته ټاکل شي.

دا د IPAS لخوا یا دهغې په استازیتوب تفتیشونه نااعلان شوي دي. نه به د مرکز مدیر او نه به تاسو ته وویل شي چې دا تفتیشونه به کله ترسره شي. د تفتیش په ورځ، تاسو ته خبر درکړل شي چې ستاسو کوټه به وروسته معاینه شي. که تاسو هلته نه یاست، تفتیش ممکن ستاسو په غیاب کې ترسره شي.

**ج) برقي وسایل**



ځیني بریښنایي وسایل او اډاپټرونه دد اور لګیدني خطر رامینځ کوي شي. که تاسو غواړئ په خپله کوټه کي کوم بریښنایي وسیله وکاروئ ، تاسو باید لومړی د مرکز مدیر څخه اجازه ترلاسه کړئ. **(مهرباني وکړئ 3 برخه وګورئ: دد اور لږیدني پر وړاندې خونیتوب)**

**ح) د کوټي سينګار (ډیکوریشن)**

تاسو ممکن یوازې هغه وخت کولی شئ چي خپله کوټه ډیکور کړئ که چیرې تاسو د مرکز له مدیر څخه اجازه ترلاسه کړي وي. د کوټې ډیکوریشن ممکن د اور لږیدني خطر رامینځته کړي.

**خواړه او پخلی**

2.5 تاسو باید په خپله د خوب کوټه کي خواړه ونه ساتئ. تاسو باید په خپله خونه کي خواړه پاخه نه کړئ.

**الکول او غیرقانوني مخدره توکي**

2.6 ستاسو باید په مرکز کي الکول یا غیرقانوني مخدره توکي ونه کاروئ یا ذخیره کړئ.

**شور**

2.7 تاسو باید ډیر شور جوړ نه کړئ، په ځانګړي توګه د شپي له 10 څخه د سهار تر 8 بجو پورې. دا اړینه ده چي تاسو د نورو اوسیدونکو او ګاونډیانو په اړه فکر وکړئ او په یاد ولرئ چي ټول اوسیدونکي حق لري چي د مرکز له خاموشی خوند واخلي.



**سګرټ څکول**

2.8 تاسو باید د مرکز دننه په هیڅ ځای کي سګرټ ونه څکوئ، تاسو باید د لوګي کشف کونکی( ډیټکټور) ونه پوښئ ځکه چي دا د اورلږدني جدی خطر کیدی شي.



**کورني حیوانات**

2.9 تاسو نشئ کولی چي کورني حیوانات په مرکز کي وساتئ. مرستندویه سپیو ته اجازه شته هرچیری چي اړتیا وي.

**کثافات**



2.10 مهرباني وکړئ ټول کثافات په درکړل شوي کثافات دانی کي واچوئ.

**د اور وژني تمرينونه**

2.11 تاسو باید د اور وژني په ټولو تمرینونو کې برخه واخلئ او د اور وژني د مقرراتو اطاعت وکړئ لکه څنګه چې په دې سند کې واضح شوي. د اور وژني تمرینونه ستاسو د خوندیتوب لپاره ترسره کیږي. (**مهرباني وکړئ 3 برخه وګورئ: د اورلږیدني پروړاندې خوندتوب**)

**ملاقات کونکي**

2.12 د ملګرو یا خپلوانو سره د لیدل د ژوند یو مهم اړخ دی او اداره غواړي چې دا د امکان تر حده اسانه کړي. IPAS غواړي هر څوک چې په مرکز کې ژوند کوي د خوندي او محفوظ استوګنې څخه خوند واخلي او دا چې هرهغه چا حقوقوته درناوی کیږي چې هلته ژوند کوي.




په دې وجه، لیدنې ته عموما د سهار له 10 بجو څخه د شپې تر 10 بجو پورې اجازه ورکول کیږي (د ماشومانو لپاره دشپې تر 8 بجو مګردا چې دوی د والدینو/ سرپرست سره وي). د مرکز مدیر ممکن په هر یو وخت کې د لیدنو شمیر محدود کړي که چیرې هغه/هغې پدې باور وي چې روغتیا او یا د خوندیتوب خطر شتون لري. د مرکز مدیر همدارنګه کیدای شي مرکز ته د ملاقات کونکو د ننوتلو څخه مخنیوی یا د ملاقات کونکو څخه وغواړي چې مرکز پریږدي، که چیرې هغه/ هغې باور ولري چې دوي ممکن د اوسیدونکو یا د مرکز ملکیت ته ګواښ رامنځته کړي. د مرکز مدیر به IPAS ته د دې ډول انکار د لاملونو په اړه خبر ورکړي. د نورو اوسیدونکو حقونو ته د درناوي او د ماشومانو د خوندیتوب معیارونو ته په پام سره، د لیدنې لارې چارې به د هغه مرکز په ډول پورې اړه ولري چې تاسو پکې ژوند کوئ.

**A ډول:**

دا هغه مرکزونه دي چې د انفرادي هستوګنې واحدونو څخه جوړ شوي دي او ګرځنده کورونه، کورونه او ځان ته دخواړو برابرولو اپارتمانونه پکې شامل دي. د دې له امله، د استوګنې واحد کې ملاقات د اوسیدونکي په بلنه ترسره کیدای شي.

**B ډول:**

دا هغه مرکزونه دي چیرې چې د استوګنې واحدونه په اجتماعي سیمو کې دي د بیلګې په توګه. چیرې چې انفرادي خونې د اجتماعي دهلیزونو څخه لرې موقعیت لري. د B ډول مرکزونه به پخواني هوټلونه، هاسټلونه او نور وي. په دې مرکزونو به لیدنې په ټاکل شوي د ملاقات کوټو کې برابرې شي کوم چې به مخکې له مخکې بوک( نیول) کیدای شي.

د اوسیدونکو کوټو ته د ورتلو اجازه نه ورکول کیږي ځکه چې دا مناسبه نه ده چې غیراوسیدونکو ته عمومي ساحو او دهلیزونو ته د لاسرسي اجازه ورکړل شي.

**د C ډول:**

دا مرکزونه په لویه کچه له هغه ډول کوټو څخه جوړ شوي دي چرې چې مجردخلک په یوه کوټه اوسیږي. هغو کوټو ته د ورتلو اجازه نشته کومې چې د پردي کس ( خپلوان نوي) سره شریکه وي ترڅو دهغه کس حصوصي حریم ته درناوی شوی وي څوک چې په کوټه کې شریک دی. لکه د پورته د B ډول په څېر، په دې ډول مرکزو کې به لیدنې په ټاکل شویو د ملاقات کوټو کې برابرې شي، کوم چې دمخه بک کیدی شي.

د مرکز ډول په پام کې نیولو پرته، لاندې موارد باید په پام کې ونیول شي:

- ملاقات کونکو څخه غوښتنه کیږي چې په استقبالیه کې کارمندانو ته ووایي چې دوی غواړي له چا سره لیدنه وکړي او د ملاقات کونکو د ثبت کتاب ډک کړي.
- له تاسو څخه به غوښتنه کیږي چې د خپل میلمه سره د لیدو لپاره استقبالیې ته راشئ. مهرباني وکړئ ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو میلمانه د نورو اوسیدونکو حقونو ته درناوی کوي.
- له لیدونکو څخه غوښتل کیږي چې یوه فورمه لاسلیک کړي چې وایي دوی به د کور قواعد او پالیسی تعقیب کړي.
- • له لیدونکو څخه غوښتل کیږي چې د لیدنې په جریان کې د کوم زیان یا ټپي کیدو په اړه ادعا معافیت لاسلیک کړي.

**د شپې بل ځای پاتې کيدل**

2.13 د مقرراتو د 4 مادې سره سم، تاسو ته د دې پوهيدو له مخې استوګنځی درکول کيږي چې تاسو به په عادي حالت کې هلته ژوند کوئ. دا د IPAS مسؤليت دی چې ډاډ ترلاسه کړي چې د محافظت تږولوهغوغوښتونکو ته چې کافي امکانات نلري د استوګنې ځای موجود دی، او ټول تخصيص شوي بسترونه کارول کيږي.

مهرباني وکړئ د مرکز مدير ته خبر ورکړئ که تاسو يا ستاسو ماشومان د شپې بل ځای پاتې کيږئ. که تاسو د وضاحت پرته له دريوشپو څخه د ډير وخت لپاره له مرکزه بهر پاتې شوی د مرکز مانجر به تاسو ته يو ليک وليکی اوستاسو د بهر پاتې کيدوعلت به وپوښتي. که تاسو د کوم وضاحت پرته له خبل استوګنځي لرې پاتې شئ، نو دا به په دې ډول وانګيرل شي چې تاسو نور استوګنځي ته اړتيا نلرئ.

غير حاضري ممکن ستاسو د دورځنيو لګښتونو تاديات د ورکړې بهير هم اغيزمن کړي.

2.14 د مرکز مدير مکلف دی چې د ټولنې د هوسايني خدماتو ته خبر ورکړي چې تاسو پرته له دې چې مديريت ته خبر ورکړئ لرې وئ. دا ممکن تاثير ولري چې ايا تاسو د ورځني لګښتونو تخصيص مستحق ياست يا نه. مهرباني وکړئ د مرکزونو څخه د ماشومانو د غيرحاضرۍ په اړه 2.20 او 2.21 مقررات هم وګورئ.

**که تاسو په دايمي توګه له مرکزه بهر کيږئ**

2.15 تاسو بايد د مرکز مدير ته ووايئاست که تاسو د تل لپاره له مرکز څخه وځئ.

**د ادرس بدلون**

2.16 که تاسو د IPAS په يوه مرکز کې اوسيږئ او خپل ادرس بدل کړئ، نو بايد د نړيوال خونديتوب دفتر په شمول اړوندو چارواکو ته په دې اړه ليک وليکئ ترڅو دوی خبر کړي. د مرکز مدير کولی شي تاسو ته د پتې د بدلون اړوند فورمې درکړي.

که تاسو چارواکو ته خبر ورنکړي چې تاسو پته بدله کړئ تاسو ممکن د خپل غوښتنليک په اړه مهمې خبرتياو په ترلاسه کولو کې پاتې راشي. دا پدې معنی کيدی شي چې تاسو د اسنادوثبت کولو، استيناف او داسې نورو لپاره د وخت محدوديتونو پوره کولو کې پاتې راغلي.

**زه د خپل پته د بدلون په اړه چا ته لیک ولیکم؟**

2.17

الف) که تاسو د محافظت په پروسه کې د **غوښتنلیک په مرحله** کې یاست،

لاندې بتې ته ولیکئ:

The International Protection Office

79-83 Lower Mount Street,

Dublin 2

ب) که تاسو د محافظت په پروسه کې د **استیناف غوښتنې په مرحله** کې یاست،

لاندې بتې ته ولیکئ:

The International Protection Appeals Tribunal

6/7 Hanover Street,

Dublin 2

ث) که تاسو د **پاتې کیدو اجازې** په لټه کې یاست ('د پاتې کیدو اجازه غواړې') په لاندې پته ولیکئ:

The Repatriation Division

Irish Naturalisation and Immigration Service (INIS) Department of Children, Equality, Disability, and Integration and Equality

Burgh Quay 13-14

.Dublin 2

**وسایط (د موټروونو، موټرسایکلونو او نورو په شمول)**

2.18 موټري یوازي د مدیریت په اجازي سره د مرکز په ساحه کي پارک کیدی شي.

که تاسو د مرکز په ساحه کي یو موټر پارک کړی وي، تاسو باید وکولای شئ چي دا ثابت کړئ:

- چي تاسولاندې شیان لرئ:
- دا په بشپړه توګه مالیه ده؛ او
- دا په بشپړه ډول بیمه شوی.




دا د قانون څخه جدي سرغړونه ده چي د مالیي او/یا بیمي پرته موټر ولرئ.



## ماشومان

**ښوونځی**

2.19 تاسو باید ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو ماشوم ښوونځي ته ځي.



ټول ماشومان چې عمرونه يې د 6 او 16 ترمنځ وي باید ښوونځي ته لاړ شي یا بل ډول د 2000 کال د ښووني او روزنې(رفاه) د قانون له مخې باید تعلیم ترلاسه کړي. ډیری ماشومان د سپټمبر په میاشت کې د دوی په څلور کلنۍ یا پنځه کلنۍ کې مکتب شروغ کوي.

یوځل چې ستاسو ماشوم په ښوونځي کې شامل شي دوی باید هره ورځ حاضر شي. تاسو باید ښوونځي ته خبر ورکړئ که چیرې ستاسو ماشوم د ناروغۍ او یا نورو لاملونو له امله ښوونځي ته نشي تللی.

**پاملرنه او خوندیتوب**

2.20 د مور او پلار یا قانوني سرپرست په توګه، تاسو دماشوم خوندیتوب او د پاملرنې مسؤلیت لرئ په آیرلینډ کې، تر 18 کلونو پورې، یو کس په قانوني توګه ماشوم دی. مهرباني وکړئ ډاډ ترلاسه کړئ چې د ټولو ماشومانو څخه د یو مناسب بالغ لخوا پاملرنه کیږي کله چې تاسو په مرکز کې نه یاست.

د ماشومانو د ساتنې پالیسي

2.21 IPAS په هر مرکز کې د ماشومانو د خوندیتوب پالیسي لري. هر مرکز د IPAS 'ماشوم د ساتنې پالیسی' یوه کاپي لري او تاسو کولی شئ چې د مرکز د کارمندانو څخه یوه کاپي ترلاسه کړئ. د دې پالیسی د شرایطو له مخې، تاسو باید ډاډ ترلاسه کړئ چې د ماشومانو او ځوانانو سره په درناوي چلند کیږي. تاسو باید تل ډاډ ترلاسه کړئ چې دوی خوندي وساتئ او د دوی عمومي هوسایني ته پاملرنه وکړئ.



**په هستوګنې کې د ماشومانو څارنه**

2.22 والدینو او سرپرستانو ته مشوره ورکول کیږي چې ډاډ ترلاسه کړي چې دوی له خپلو ماشومان د IPAS په استوګنځي کې د اوسیدو په وخت کافي څارنه کوي. په آیرلینډ کې د والدینو په اړه مشورې، محلي دماشومانو د پاملرنې اختیارونه، او ستاسو په سیمه کې د کورنۍ سرچینو مرکزونو سره د اړیکو د نیولو د څرنګوالي په اړه مشوره د [https://www.tusla.ie/](https://www.tusla.ie/) یا [https://www.newcommunities.ie/](https://www.newcommunities.ie/)څخه ترلاسه کولی شئ.
ستاسو د مرکز مدیر هم کولی شي تاسو ته د کورنیو لپاره د محلي خدماتو په اړه مشوره درکړي.

دا د والدینو او سرپرستانو مسؤلیت دی چې ډاډ ترلاسه کړي چې د دوی له ماشومان پاملرنه کیږي او خوندي دي. که چیرې یو ماشوم په خطر کې وي، دا د مرکز د کارمندانو دنده ده چې د [IPAS](#) د ماشومانو د خوندیتوب پالیسي او د ماشومانو د ساتنې او هوساینې لپاره د ماشومانو لومړنۍ ملي لارښود تعقیب کړي. د هرې پالیسۍ یوه کاپي د مرکز له مدیر، یا د IPAS څخه ترلاسه کیدای شي.

[http://www.gov.ie/](http://www.gov.ie/)او [www.tusla.ie](http://www.tusla.ie).

د مرکز کارکونکي نشي کولی ستاسو د ماشومانوڅخه پاملرنه وکړي. مهرباني وکړئ د کاري ساعتونو په جریان کې ، یا ماښام که تاسو په مرکز کې نه یاست د ماشوم ساتنې او د ماشوم څخه د نظارت کونکي مناسب تنظیمات وکړئ

**دشپې په بل ځای کې پاتې کېدل**

2.1 د ماشوم د خوندیتوب د پالیسۍ د یوې برخې په توګه، مهرباني وکړئ مخکې له مخکې د مرکز مدیر ته ووایاست که چیرې ستاسو ماشوم د شپې لپاره له مرکز څخه بهار په بل ځای کې پاتې کیږي.
تاسو باید مدیر ته د هغه کس نوم او پته ورکړئ چاسره چې ستاسو ماشوم پاتې کیږي، او هغه نیته چې تاسو یې د بیرته راستنیدو تمه لرئ. که تاسو دا کار ونکړئ ستاسو ماشوم ممکن د ورک شوي کس په توګه ان ګارډا سیوچانا (آیرلینډ پولیس) ته راپورکړل شي.



# 3 برخه



## د اور لږیدنې پروړاندې خوندیتوب

**ستاسو او د ټولو اوسیدونکو د خوندیتوب لپاره، تاسو باید د اور لږیدنې پروړاندې خوندیتوب لاندې قوانینوباندې پوه او د هغه اطاعت وکړئ:**

**د اور وژنې تمرینونه**

3.1 مرکز به په مناسبو وختونو کې د اور وژنې تمرینونه ترسره کړي، ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې تاسوپه دې پوهیږئ چې د اور لږیدنې په وخت کې د تیښتې کومې لارې کارولی شئ او دا چې تاسو باید چیرته سره راټول شئ.

**د اور لږیدنې زنګ(الارم)**

3.2 که چیرې اور لږیدلی وي یا مرکز د اور وژنې تمرین کوي، الارم به په دوامداره توګه آواز کوي. کله چې تاسو دا الارم واورئ، مهرباني وکړئ سمدلاسه دترټولو نیږدې لارې ودانۍ پریږدئ او د راټولدنې نقطې ته لاړشئ. ستاسو د بهروتلو د لارې توضیحات باید ستاسو په خوب خونه کې لږول شوی وي. که نه وي لږول شوي، نو مهرباني وکړئ د خپل مرکز مدیر سره اړیکه ونیسئ.

والدین او سرپرستان باید (چیرې چې دا کار خوندي وي) ډاډ ترلاسه کړي چې دوی خپل ماشومان له مرکز څخه د وتلو پرمهال له ځانه سره بوځي. سربیره پردې، والدین او سرپرست باید د مرکز مدیریت ته ووایي که چیرې د دوی کوم ماشومان په هغه وخت کې په ودانۍ کې نه وي، د بیلګې په توګه که دوی په ښوونځي کې وي.

**تاسو باید د اور وژنې په تمرینونو کې همکاري وکړئ**

3.3 که چیرې ستاسو د مرکز کارکونکي د اور یا د اور وژنې د تمرین له امله مرکز ودانۍ خالي کوي نو تاسو ورسره همکاري وکړئ. هرڅوک چې په همکارۍ کې پاتې راشي دوي به د کور قواعد به مات کړي وي او مرکز به په دې اړه IPAS ته خبر ورکړي. IPAS د قواعدو هر ډول سرغړونه جدي نیسي، په ځانګړې توګه هغه چې د اور پروړاندې دخوندیتوب پورې اړه لري.

**د اور وژنې خبرتیاوې**


3.4 په ټول مرکز کې په دیوالونو کې د اور وژنې خبرتیاوې شتون لري ترڅو تاسو سره مرسته وکړي ترڅو پوه شي چې او یا د اور وژنې د تمرین په وخت کې باید څه وکړئ. دا خبرتیاوې ما خرابوی او یا یې مه لرې کوئ.

**ستاسو د تیښتې نږدې لاره**

3.5 مهرباني وکړئ خپله د خوب خونې ته نږدې د اور څخه د تېښتې نیږدې لاره له ځان سره نوټ کړئ.

**د وتلو لارې د موانعوڅخه پاکې وساتئ**

3.6 مهرباني وکړئ هر وخت د اور څخه د تښتې لارې له موانعو پاکې وساتئ.



**د اور پروړاندې مقاومت لرونکي دروازې(فاير ډور) بندې وساتئ**

3.7 مهرباني وکړئ هر وخت د اور پروړاندې مقاومت لرونکي دروازې تړلې وساتئ.

**تجهیزاتو باندې کار مالرئ**



3.8 د اور پروړاندې د خونديتوب په تجهيزاتو باندې کار مالرئ، د بيلګې په توګه:

- اور وژونکي سلنډرونه؛
- د اور وژنې د اوبو پايپ: يا
- د اورلږدنې د خبرداري زنګ وسايل.

**هڅه مه کوئ چې تاسو خپله اور مهار کړئ**

3.9 که تاسو اور وويني، مهرباني وکړئ نږدې د اور لږدني دخبرداري زنګ فعال کړئ او بيا سمدلاسه ودانۍ پريږدئ.

**هڅه مه کوئ چې تاسو خپله اور مهار کړئ.**



## 4 برخه

## د شکایتونو طرزالعمل

4.1 IPASد شکایتونو طرزالعمل لري. دهغه موخه د ستونزو سره په چټکه او اغیزمنه توګه مبارزه کول دي.

### څوک کولی شي د شکایتونو طرزالعمل وکاروي؟

4.2 د شکایتونو دا کړنلاره ستاسو او د مرکز مدیر دواړو ته خلاصه ده. دا په دی معنی:

الف) تاسو کولی شئ شکایت وکړئ که تاسو فکر کوئ چې مرکز تاسو پرورِاندې خپل مکلفیتونه ندي پوره کړي لکه څنګه چې د دې کتاب 'په 1 برخه: خدماتو' کې ښودل شوي دي: او

ب) د هغه مرکز مدیر چې تاسو پکې اوسیږئ شکایت کولی شي که چیرې دوی فکر وکړي چې تاسو مرکز ته خپل مکلفیتونو لکه څرنګه چې د دې کتاب په 2 برخه کې: د کورپه قواعدو' کې ټاکل شوي ندي ترسره کړي.

4.3 تاسو، اوسیدونکي، هڅول کیږئ چې دهغو ستونزو او مشکلاتو د هوارئ لپاره چې د IPAS د استوګنې په مرکزونو کې رامنځته کیږي د شکایاتو له طرزالعمل څخه کته واخلئ. د مثال په توګه، که تاسو فکر کوئ چې مرکز تاسو پرورِاندې خپل مکلفیتونه ندي پوره کړي لکه څنګه چې د کور قواعدوپه کتاب کې 'په 1 برخه: خدماتو' کې ټاکل شوي، نوتاسو باید د شکایتونو طرزالعمل وکاروئ. په هغه قضیو کې چې IPAS باور لري چې د یو مرکز خوندیتوب او امنیت ته قریب الوقوع ګواښ شتون لري، بیاهم د 4 مرحلې الاندې استیناف ته اجازه ورکول کیږي، مګر IPAS ممکن د استیناف پایلې تر رسیدو مخکې سمدستي پریکړې او اقدامات وکړي.

4.4 کله چې تاسو اړتیا لرئ چې شکایت وکړئ نو تاسو باید له شکایت کولو څخه ونه ډار شئ. شکایت کول به ستاسو د نړیوال خوندیتوب په غوښتنلیک اغیزه ونکړي.

### څوک به شکایت ته رسیداګي وکړي؟

4.5 چیرې چې ممکنه وي او کله چې اړتیا وي، ستاسو شکایت باید د هغه چا لخوا ورته رسیدګي وشي چې ستاسو په څیر جنسیت ولري.

**ایا زما شکایت به پټ وساتل شي؟**

4.6 ټول شکایتونه به د مرکز کارمندانو او IPAS لخوا په حساس او محرمانه ډول وڅېړل شي، مګر ځینې وختونه ممکن دوی اړتیا ولري چې د نورو دخیلو خلکو سره مشوره وکړي.

**ایا زما شکایت باید په انګلیسي ژبه وي؟**

4.7 نه، تاسو کولی شئ خپل شکایت په هره ژبه کې وړاندې کړئ. که IPAS ستاسو شکایت ژباړلو ته اړتیا ولري، دا ممکن ددوی لپاره هغې ته درسیدګی لپاره څو ورځې نور وخت ونیسي.

**ایا زه کولی شم له یو چا څخه وغواړم چې زما سره د شکایت کولو کې مرسته وکړي؟**

4.8 اوسیدونکي کولی شي د شکایت کولو لپاره مرسته وغواړي. د مثال په توګه، دوی کولی شي د یو ملګري، خپلوان، یا د ملاتړ ډلې غړي مرسته وغواړي. که څه هم، IPAS او د مرکز مدیریت دا حق له ځان سره ساتي چې د شکایت په اړه د اوسیدونکي سره مستقیمه اړیکه ونیسي.

**اوسيدونکي څه ډول شکايت کولی شي؟**

4.9 تمه کيږي چې ډيري شکايتونه په چټکه او غير رسمي توګه حل شي. که څه هم، ځيني وختونه دا نه شي کيدای اود نور پراوونه څخه بايد تير شي. شکايتونه په څلورو مرحلو کې کيدی شي:

غير رسمي - لفظي (1 مرحله)

په رسمی ډول په ليکلی بڼه (2 مرحله)

IPAS ته عريضه - په ليکلي توګه (3 مرحله)

رسمي پلټونکي (مختسب) يا د ماشومانو لپاره رسمي پلټونکي ته عريضه (۴ ګام)

**1 مرحله**

**ايا زما شکايت ته په غير رسمي ډول د استوګنی په مرکز کې رسيداګي کيدی شي؟**

4.10 هو. د مرکز مدير بايد خپله هڅه وکړي چې ستاسو مسله په چټکه او غير رسمي ډول حل کړي. که تاسو فکر کوئ چې مرکز تاسو ته خپل مکلفيتونه نه دي ترسره کړي او غواړئ يو **غير رسمي** شکايت وکړئ، لکه څنګه چې په '1 برخه: خدمات' کې ښودل شوي، تاسو بايد سمدستي د مرکز مدير ته وواياست که تاسو د **هغه** خدماتو څخه ناخوښه ياست چې دوی يې وړاندې کوي.



**2 مرحله**

**څه پیښیږي که زه د مرکز لخوا زما د شکایت ته درسیداګی د څرنګوالي څخه راضي نه یم؟**

4.11 که تاسود مرکز دمدیر لخوا ستاسو شکایت ته په غیررسمی ډول رسیداګی څخه راضي نه یاست، تاسو کولی شئ په رسمي ډول په لیکلي بڼه دوي ته شکایت وکړئ.دوي به تاسو ته په 14 ورځو کي ځواب درکړي.د شکایت فورمي یوه بیلګه چي تاسو یي ددې لپاره کي کارولی شئ د دې کتاب 1 ضمیمه کي موجوده ده.



**3 مرحله**

**زه څنګه IPAS ته شکایت وکړم؟**

4.12 که چیرې تاسو له پورتنی مرحلي تیر شوي یاست، او تاسو باور لرئ چي مرکز ستاسو شکایت په قناعت بښونکي ډول نه دی حل کړی، تاسو کولی شئ IPAS ته ولیکئ او دوی ته ووایاست چي ستاسو اصلي شکایت څه و. د شکایت فورمه یوه بیلګه چي تاسو یي IPAS ته د شکایت کولو لپاره کارولی شئ د دې کوچني کتاب په 2 ضمیمه کي موجوده ده.

مهرباني وکړئ په دې بریښنالیک یې ولیږئ: **ipasinbox@equality.gov.ie**

یا

دا فورمه **دIPAS عملیاتي مدیر ته په دې پته واستوئ: PO Box 11487, Dublin 2.**

که تاسو وغواړئ تاسو کولی شئ د اصلي شکایت یوه کاپي او د مرکز مدیر ځواب هم ضمیمه کړئ.

عملیاتي مدیر به په IPAS کي د یومناسب کارمند څخه وغواړي چي ستاسو شکایت ته رسیدګي وکړي. دا کارمند به له تاسو او بل هر چا څخه د شکایت په اړه خبر او دخیل وي د نظرونو غوښتنه وکړي.

**ایا زه کولی شم مستقیم IPAS ته شکایت وکړم؟**

4.13 په خورا استثنایی او جدي شرایطو کې تاسو کولی شئ د مرکز مدیر په جریان کې کولو څخه پرته خپل شکایت مستقیم IPAS ته وسپارئ. د مثال په توګه، دا په هغه حالاتو کې واقع کیدی شي چې که چیرې ستاسو شکایت لومړی د مرکز مدیر لخوا و ارزول شي نو په عادلانه توګه د هغه پروسس کول به ستونزمن کړي. که څه هم، IPAS کولی شي شکایت د استوګنې مرکز مدیر ته واستوي که چیرې دوی فکر وکړي چې دا باید لومړی په سیمه ایزه توګه ارزول شوې وای.

**4 مرحله د رسمي پلټونکي یا محتسب دفتر یا د ماشومانو لپاره د محتسب دفتر ته شکایتونه**

4.14 که تاسو IPAS ته د خپل شکایت له پایلو څخه راضي نه یاست نو تاسو کولی شئ د رسمي پلټونکي یا محتسب دفتر یا د ماشومانو لپاره د محتسب دفتر ته خپل شکایت وسپارئ کوم یو چې ستاسو لپاره مناسب وي. شکایتونه به یوازې هغ وخت د دې دفترونو لخوا حل شي چې که تاسو دمخه د شکایتونو رسمي کړنلارې تعقیب کړې وي کوم چې تاسو باید په لومړي سر کې خپل شکایتونه د خپل د مرکز مدیریت ته وسپارئ او بیا که تاسو د پایلې څخه راضي نه یاست نوبیا IPAS رسمي شکایت وړاندې کړئ. د محتسب دفتر یا د ماشومانو لپاره د محتسب دفتر باید ستاسو د استوګنې او نورو خدماتو پورې اړوند شکایتونو ته په داسې حال کې رسیدګي وکړي چې تاسو د دولت لخوا چمتو شوي استوګنځي کې اوسیږئ. دا دفترونه به د نړیوال خوندیتوب لپاره ستاسو د غوښتنلیک پورې اړوند مسلو سره معامله ونه کړي.

4.15 څرنګه شکایت وکړم:

www.ombudsman.ie ته مراجعه وکړئ یا دا لینک باندې کلیک وکړئ Ombudsman Make a Complaint
یا د استقبالیې سیستم پورې اړوند شکایتونو په اړه:

Ombudsman and direct Provision

**د مرکز مدیر د یو اوسیدونکي په اړه څنګه شکایت کوي؟**

4.16 تمه کیږي چې د مدیرانو لخوا شکایتونه ژر تر ژره او غیر رسمي حل شي. ځیني وختونه دا نشي پیښ دی اوممکن مخکې له نور مرحلوهم باید تیرې شي. شکایتونه په دریو مرحلو کې کیدی شي:

غیر رسمي - لفظي (1 مرحله)

په رسمي ډول - په لیکلي ډول (2 مرحله)

IPAS ته راجع کول (3 مرحله)

**1 مرحله**

**ایا د مرکز مدیر کولی شي د یو اوسیدونکي په وړاندې شکایت په غیر رسمي ډول حل کړي؟**

4.17 هو، که چیرې شکایت وشي چې د اوسیدونکي لخوا د کور له قواعدو څخه سرغړونه شوي وي او دا سرغړونه کوچنی وي، مدیر به دې مسلې ته د اوسیدونکي پام راواړوي او هڅه به وکړي چې ستونزه ژر تر ژره په غیررسمي ډول حل کړي.

**2 مرحله**

**مرکز څه وخت رسمي شکایت کوي؟**

4.18 که چیرې کوم شکایت وشي چې یو اوسیدونکي د کور له قواعدو څخه جدي سرغړونه کړې ده، د مرکز مدیر به:

- شکایت وڅیړي:او
- د ښکیلو اوسیدونکو/اوسیدونکي نظربه وغواړئ.



که چیرې مدیر په دې پوه شي چې یو اوسیدونکي د قواعدو څخه جدي سرغړونه کړي، هغه/هغې به یو لیکلی خبرداری ورکړي چې څنګه د قانون څخه سرغړونه شوې او په دې اړه به کوم اقدام وکړي. اوسیدونکی باید د هغو اقداماتو څخه هم خبر شي چې د مدیر یا IPAS لخوا به په دې اړه ترسره کیږي، که چیرې بله سرغړونه ترسره کړي.

**که په شکایت کې ماشومان شامل وي څه پېښېږي؟**

4.19 که چیرې د ماشومانو په اړه کومه اندیښنه یا مسله وي (هر څوک چې عمر يې د 18 کلونو څخه کم وي)، مرکز به TUSLA او IPAS ته خبر ورکړي.

**3 مرحله**

**څه پیښیږي کله چې یو څوک چې دمخه خبرداری ورکړل شوی وي بیا قواعد مات کړي؟**

4.20 که چا ته دمخه د کور د قواعدو ماتولو په اړه خبرداری ورکړل شوی وي او شکایت وشي چې دوی بیا قواعد مات کړي، مدیر به د IPAS د خبرولو لپاره هغوي ته یو لیک ولیکي. په ډیری حاالتو کې IPAS ته د لیږل شوي لیک یوه کاپي اوسیدونکي ته ورکول کیږي مګر په هغه صورت کې نه چې په لیک کې هغه معلومات شتون ولري چې د بل کس د هویت ساتلو لپاره محرم پاتې کیدو ته اړتیا لري ، IPAS به د مدیر په لیک د ذکرشویو موادرو په اړه د اوسیدونکي نظر وغواړي او بیا به یې په اړه پریکړه وکړي. IPAS به اوسیدونکي ته د شکایت ته ددوي دځواب او پریکړې په اړه ولیکي.

د مقرراتو لاندې یو اوسیدونکی باید د کور قواعد رعایت کړي. که چیرې د کور له قواعدو څخه جدي سرغړونه رامنځته شي، وزیر کولی شي د استوګنې شرایط (استقامت او اړوند خدمات) کم کړي یا بیرته واخلي او یا هم تاسو بل مرکز ته ولیږدوي.

که اوسیدونکی بیا د کور مقررات مات کړي، IPAS به دوی ته خبرداری ورکړي چې نورې سرغړونه ممکن د استوګنې کمولو یا بیرته اخیستلو اویا بل هستوګنې ته لیږدولو معنی ولري. که دا پیښ شي، د ماشومانو، مساوات، معلولیت، ادغام، او ځوانانو وزیر به د استوګنې بدیل وټاکي په کوم کې چې به د مادي استقبالیي شرایط چمتو شي.

IPAS به د خپلو موندنو یوه کاپي د مرکز مدیر ته واستوي.

**څه پیښیږي که چیرې د ماشومانو، مساوات، معلولیت، انسجام او ځوانانو وزیر پریکړه وکړي چې یو اوسیدونکی ته بیامرکز وټاکي (انتقال کړي)؟**

4.21 وزیر باید د مقرراتو د 7 مادې سره سم د استوګنې ځای وټاکي. د استوګنې لیږد ممکن د ډیری دلیلونو لپاره ترسره شي په شمول د استقبالیې سیستم د اغیزمن فعالیت کول څخه د مالتړ په پار. IPAS به اوسیدونکي ته لیک ولیکي ترڅو دوی خبر کړي او د دې مکتوب یوه کاپي به د مرکز مدیر ته واستوي. دا لیکونه به د بریښنالیک او پوست له لارې صادر شي.

4.22 IPAS به لاندې ترتیبات ترسره کړي:

- یو مناسب بدیل ځای به وموميځ چیرې چه به اوسیدونکي هلته انتقال شي
- د ټولنې د هوساینې خدمت کې د اړونده چارواکي سره اړیکه ونیسئ ترڅو د سفرټیکټ تنظیم کړي او د ټولنیز هوساینې حقوق ولیږدوي؛ او
- دهغه هستوګنې د مرکز مدیر ته بریښنالیک ورکړئ چیرې چې اوسیدونکي لیږدول کیږي د دوی د ورتګ په اړه به معلومات ورکړئ او دا چې ولې لیږدول کیږي

**د ادرس بدلون**

4.23 د مقرراتو د 7 مادې سره سم د IPAS له لارې د ماشومانو، مساوات، معلولیت، انسجام او ځوانانو وزیر کولی شي تاسو ته یو نوی مرکز وټاکي. که تاسوولیږدول شئ، تاسو باید اړوندو چارواکو ته خبر ورکړئ چې ستاسو پته بدله شوې ده (برخه 2.18 وګورئ). د پتې د بدلون فورمې ستاسو په مرکز کې شتون لري.

**آیا IPAS کولی شي د استوګنې ځای په بشپړه توګه له یوه اوسیدونکي څخه واخلي؟**

4.24 د اروپایی ټولنو د 6 مقرارې سره سم (د استوګنې شرایط) په خورا جدي او استثنایی شرایطو کې، د ماشومانو، مساوات، معلولیت، ادغام او ځوانانو وزیر د ښه نظم ساتلو او د استوګنې مرکزونو خوندي او اغیزمن مدیریت لپاره ، سمدلاسه او پرته له خبرتیا کولی شي:

- د اوسیدونکي څخه د خدماتو بیرته واخلي، چې کیدای شي په بشپړ ډول د استقبالیې سیستم څخه د ایستلو معنی ولري.

4.25 عموما، دا کړنې یوازې په استثنایی حالتونو کې ترسره کیدی شي چیرې چې نور هیڅ اقدام نشي ترسره کیدی او د وزیر لخوا به د IPAS دلوړربه چارواکي له لارې لارښوونه کیږي.

4.26 که چیرې د استوګنې او اړوندو خدماتو د ختمولو یا کمولو پریکړه وشي، دا به د مقرراتود 6 مقرارې له مخې ترسره کیږي. وزیر به شخص ته د پریکړې دلایل لیکي. که تاسو د استوګنې خدماتو څخه د ختمولو یا کمولو پریکړې څخه ناخوښه یاست، تاسو کولی شئ د پریکړې بیاکتنې غوښتنه وکړئ. د بیاکتنې پاړه دغوښتنه کولود څرنګوالي په اړه توضیحات په 44 مخ کې دي.

**IPAS به ګارډا سیوچانا ( آیرلنډ پولیس) ته خبر ورکړي**

4.27 که چیرې کوم جرم ترسره شوی وي چې د استوګنې او اړوندو خدماتوځخه د وتلو لامل شوی وي، IPAS به سمدستي ان ګارډا سیوچانا (آیرلنډ پولیس) او اړوندو ټولنیزو خدماتو ته ولیکئ ترڅو دوی خبر کړي.

**د ځینو پرېکړو بیاکتنه دلاندې له مخې ترسره شوي:**

## د اروپایی ټولنو د (استقبالیي شرایطو) د 2018 مقررات.

4.28 داسې قضیې شتون لري چې یو درخواست کونکي کولی چې د هغې پریکړې په اړه د بیاکتنې غوښتنه وکړي چې دوی یې په اړه خوښ نه وي. دا قضیې د پورتنیو مقرراتو په 20 ماده کې لیست شوي دي.

- د 4 مقرراتو لاندې، هغه یو شخص د استوګنې او اړوندو خدماتو د ترلاسه کولو حق نلري
- د 5 (2) مقرراتو لاندې، د دوی د استوګنې لګښت کې دېپسومرسته کول
- د 5 (3) مقرراتو لاندې، کله چې د ماشومانو، مساوات، معلولیت، انسجام او ځوانانو وزیر د IPAS له لارې د استوګنې لګښت بیرته ورکولو غوښتنه وکړي
- د 6 (1)مقرراتو لاندې، کله چې د ماشومانو، مساوات، معلولیت، انسجام او ځوانانو وزیر د IPAS له لارې د استوګنې خدمات بیرته واخلي.
- د 11 مقرراتو لاندې، د کار بازار ته د لاسرسي اجازه ورکولو یا نوي کولو څخه انکار یا
- د 12 (1) مقرراتو لاندې، د کار مارکیټ د اجازې بیرته اخیستل،

یو غوښتونکی باید د پریکړې لیک د صادریدو نیټې څخه د 10 کاري ورځو دننه د بیاکتنې غوښتنه وکړي. که د بیاکتنې غوښتنه د پورته 4، 5 یا 6 مقرراتو سره تړاو ولري، مهرباني وکړئ په دې پته ایمل وکړئ

**بریښنالیک:** Ipasinbox@equality.gov.ie د موضوع په لین ( subject line) کې د FAO Review Officer ولیکئ، او یا لاندې ادرس ته یې ولیږئ

.The Review Officer, IPAS, PO Box 11487, Dublin 2

که د بیاکتنې غوښتنه د کار بازار ته لاسرسی، مقرراتو 11 یا 12 پورې اړه ولري، مهرباني وکړئ په لاندې پته بریښنالیک واستوئ: Imauqueries@justice.ie او د **موضوع په لین ( subject line) کې د FAO Review Officer** ولیکئ.

او یا په دې پته دبیاکتنې افسر (Review Officer) ولیکئ:

.Access Unit, PO Box 12931, Freepost FDN5264, Dublin 2

**بیا به څه کیږي؟**

یوځل چې د بیاکتنې افسر خپله پریکړه وکړي، تاسو ته به په لیکلي ډول خبر درکړل شي. که تاسو لاهم د دې پریکړې څخه ناخوښه یاست نو تاسو کولی شئ د بیاکتنې پریکړې په اړه د استیناف غوښتنه د نړیوال محافظت استیناف محکمې (IPAT) څخه وکړئ. دا د مقرراتو د 21 مقرارې له مخې غوښتل شوې او باید په لیکلي بڼه د مقرراتو په 7 **ضمیمه** کې مشخص شوي فرم (له 3 ضمیمه سره یوځای شوي) کې ترسره شي.

د مقرراتو او مهالویشونو بشپړ کاپي په دې لینک باندې په کلیک کولو سره شتون لري:

د [آیرلند د قانون کتاب](http://www.irishstatutebook.ie/eli/2018/si/230/made/en/pdf) یا لاندې پتې ته مراجعه وکړئ

http://www.irishstatutebook.ie/eli/2018/si/230/made/en/pdf

# 1 ضميمه

**د شکایت فورمي نمونه**

**د اوسیدونکي څخه د مرکز مدیر ته د شکایت رسمي فورمه**

ستاسو مرکز:

---

ستاسو نوم:

---

ستاسو د ID نمبر:

---

د شکایت تفصیل: ____________________

---

---

---

---

---

---

ایا تاسو دمخه په غیر رسمي ډول خپل شکایت د مرکز مدیریت ته کړئ دی : هو/ نه ____________

که نه، ولې نه؟

---

---

---

---

---

که هو، پایله یې څه وه؟

________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

________________________________________

لاسلیک شو ____________________

نېټه: ____________________

## 2 ضميمه

**د شکايت فورمي نمونه**

**د شکايت رسمي فورمه له اوسيدونکي څخه IPAS ته**

ستاسو مرکز: ____________________

ستاسو نوم: ____________________

ستاسو د ID نمبر: ____________________

د شکايت تفصيل: ____________________

____________________

____________________

____________________

____________________

____________________

____________________

ايا تاسو دمخه په غير رسمي ډول خپل شکايت د مرکز مديريت ته کړئ دی : هو/ نه ____________

که نه، ولي نه؟

____________________

____________________

____________________

____________________

____________________

____________________

که هو، پایله یې څه وه؟

______________________________________________

______________________________________________

______________________________________________

______________________________________________

______________________________________________

______________________________________________

تاسو ولې IPAS ته د مرکز مدیر د پریکړې اړه د استیناف غوښتنه کوئ؟

______________________________________________

______________________________________________

______________________________________________

______________________________________________

لاسلیک شو ______________________

نېټه: ______________________

## 3 ضمیمه

د قوانیو 7 ضمیمه (Schedule 7 )

د اروپایی ټولنو (استقبالیې شرایطو) 2018 مقررات

نړیوال محافظت استیناف محکمه

د استیناف خبرتیا

د نعدي مرستې نه ورکولو، لرې کولو و یا د ځینې استوګنې شرایطو کمولو پریکړې په وړاندې

**1 برخه: د استیناف ډول**

1.1 مهرباني وکړئ یومناسب په نښه کړئ:

❒ د 11 مقرارې لاندې دهغې پرکړې پروړاندې د استیناف غوښتنه چې په هغه کې د کار بازار ته د لاسرسي لپاره داجازې ورکولو یا د اجازې دنوي کولو څخه انکار شوی.

❒ د 12 مقرارې لاندې دهغې پرکړې پروړاندې د استیناف غوښتنه چې په هغه کې دکار مارکیټ اجازه بیرته لغوه شوي.

❒ د هغې پریکړې پروړاندې د استیناف غوښتنه چې په هغه کې د 4 (1) مقرراتو سره سم د اړونده استقبالیې شرایطو( ریسپشن کانډیشن) ترلاسه کولو حق نلري.

❒ د هغې پریکړې پروړاندې د استیناف غوښتنه چې په هغه کې د 4 (1) مقرراتو لاندې د ورځني لګښتونو تخصیص حقدار نه یاست.

❒ د هغې پریکړې پروړاندې د استیناف غوښتنه چې په هغه کې د 5 (1) مقرارې لاندې به ستاسو د ورځني لګښتونو تخصیص کم کړل شي.

❒ د هغې پریکړې پروړاندې د استیناف غوښتنه چې په هغه کې د 5 (2) مقرارې لاندې باید د اړونده استقبالیې شرایطو چمتو کولو لګښت کې برخه واخلئ.

❒ د هغې پریکړې پروړاندې د استیناف غوښتنه چې په هغه کې د 5 (2) مقرارې لاندې د اړونده استوګنې شرایطو چمتو کولو لګښت د یوې برخې بیرته غوښتلو لپاره.

❒ د هغې پریکړې پروړاندې د استیناف غوښتنه چې په هغه کې د 5 (3) مقرارې لاندې د ټول یا یوه برخه د استوګنې شرایطو چمتوکولو لګښت غوښتل شوئ.

❒ د هغې پریکړې پروړاندې د استیناف غوښتنه چې په هغه کې د 5 (6) مقرارې لاندې د ورځني تخصیص ټولې یا برخې لپاره د بیرته ورکولو یا ډیر تادیې غوښتنه کوي.

❒ د هغې پریکړې پروړاندې د استیناف غوښتنه چې په هغه کې د 6 (1) مقرارې لاندې د استقبالیې اړوند شرایط کم او لغوه کړل شوي.

❒ د هغې پریکړې پروړاندې د استیناف غوښتنه چې په هغه کې د 6 (2) مقرارې لاندې د ورځنیی مصارفوتخصیص کم او یا لغو کړل شوی.

*یادونه: تاسو کولی شئ یوازې هغه وخت دنړیوال مخافظت استیناف محکمې ته عریضه وکړئ کله چې تاسو د لومړي درجې ټولې نورې بیاکتنې بشپړې کړې وي.*

**2 برخه: د غوښتونکي معلومات**

**2.1** شخصي ID نمبر: ..................................................................................................

**2.2** مکمل: ..................................................................................................

**2.3** هر بل نوم چې استفاده شوی : ..................................................................................................

**2.4** د زیږون نیټه: ..................................................................................................

**2.5** آدرس:

..................................................................................................

..................................................................................................

**2.6** د تلفن شمېره ( که چیرې موجوده وي ): ..................................................................................................

**2.7** ملیت: ..................................................................................................

**2.8** د وابسته کسانو په اړه معلومات

| نام | تاریخ تولد | مرد یا زن | رابطه با متقاضی | ID نمبر شخصی |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |

**3 برخه. قانونی وکیل:**

**3.1** ایا تاسو قانوني نماینده لرئ؟ هو / نه (د اړتیا په صورت کې لرې کړئ)

**3.2** ستاسو د قانوني استازي نوم: ..................................................................................................

**3.3** د استازي ادرس:

.......................................................... ..............................................

.......................................................... ..............................................

**3.4** دهغه/ هغې د تليفون نمبر: ........................................................................................

**3.5** د هغه/ هغې ايمل ادرس: .......................................................................................

*يادونه: که تاسو د خپل استيناف په وروستي مرحله کې قانوني استازي وټاکئ، تاسو بايد سمدستي محکمې ته خبر ورکړئ او محکمې ته د استازي اړوند معلومات ورکړئ.*

**4 برخه. د استيناف دليلونه:**

**4.1** ما ټولې د لومړۍ درجې بياکتنې يا استينافونه درلودلي دي هو / نه ( که مناسب وي پاک يې کړئ)

**4.2** مهرباني وکړئ د خپل اعتراض دليلونه په واضح او لنډ ډول بيان کړئ. د اړتيا په صورت کې تاسو کولی شئ اضافي پاڼې وکاروئ.

**1 دليل:** ..........................................................................................................................

........................................................................................................................

........................................................................................................................

**2 دليل:** ..........................................................................................................................

........................................................................................................................

........................................................................................................................

**3 دليل:** ..........................................................................................................................

........................................................................................................................

........................................................................................................................

**5 برخه: اسناد**

**5.1** مهرباني وکړئ لاندې ټول هغه اسناد لیست کړئ چې ستاسو لخوا ستاسو لومړنی کچې بیاکتنې په اړه وړاندې شوي.

1 سند: ..........................................................................................................................

2 سند: ..........................................................................................................................

3 سند: ..........................................................................................................................

**5.2** هغه اضافي اسناد چې باید ستاسو په استیناف ( پیل ) کې په پام کې ونیول شي

1 سند : ..........................................................................................................................

2 سند: ..........................................................................................................................

3 سند: ..........................................................................................................................

*یادونه: (1) که تاسو ډېر ځای ته اړتیا لرئ، اسناد باید په جلا پاڼه کې لیست شي.*

*(2) پورته لیست شوي اسناد باید د دې فورمې سره یوځای وي. مهرباني وکړئ د لومړی درجې بیاکتنې د پریکړې یوه کاپي هم شامله کړئ.*

**6 برخه: له محکمې سره اړیکه:**

**6.1** له محکمې سره ټول ارتباطات باید د راجستر شوي پوست بک له لارې د نړیوال محافظت استیناف محکمې ته واستول شي، Hanover Street East, Dublin 2 7/6.

محکمه به تاسو ته یو رسید درکړي، کوم چې تاسو باید تاسو داسنادو سپارلو د ثبوت په توګه وساتئ.

**7 برخه: د غوښتنلیک ورکوونکي واک او تایید**

**7.1** زه تاییدوم چې په دې فورمه کې ورکړل شوي ځوابونه ریښتیني او سم دي.

**7.2** زه خپل حقوقي استازي ته واک ورکوم، چیرته چې د تطبیق وړ وي، د محکمې سره په ټولو مسلوکې زما په استازیتوب عمل وکړي او زما د استیناف اړوند ټول مکتوبونه او اسناد ترلاسه کړي.

**لاسلیک شو ......................................... درخواست کونکی**

**غوښتونکی ......./ ......./..........**

## د اسنادو مالکیت او تصویب

| | د الکترونیکی اسنادو حواله |
|---|---|
| | |

| | نوم | رتبه او واحد | تاریخ |
|---|---|---|---|
| له خوا چمتو شوي | آنتوانت کرلی | HED IPAS | 2023/01/30 |
| لخوا بیاکتنه شوې | | | |
| لخوا بیاکتنه شوې | | | |
| بیاکتنه | | | |
| لخوا تاید شوي | | | |

| دصدور نیټه | د راتلونکي بیاکتني نیټه |
|---|---|
| | |

## د اسنادو تغیرولو ثبت جدول

| دنسخې شماره | د صفحې نمبر | د اصلاح توضیحات | لخوا تصویب شوی | داجرء تاریخ |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | |

## اړوند اسناد

| د سند عنوان | د الکترونیکی سندونو حواله |
|---|---|
| | |
| | |
| | |

## فهرست

د فهرست کوم جدول ونه موندل شو